# د سولې په بهير کې د ښځو د هدفمند ګډون
# د عمل ګډ پلان

**۱۶ او ۱۷ ډسمبر ۲۰۲۰**

له هغه وروسته چې په کابل او څلورو ولايتونو (پکتيا، کندز، کندهار او ارزګان) کې د ښځو رهبرانو، مدنی فعالينو او مذهبي مشرانو ته د **"د اسلام په رڼا کې د ښځو حقوق"** تر عنوان لاندې روزنه ورکړل شوه، د سولې او ډموکراسۍ لپاره د يوشانوالي اداری د مرکز او ولايتونو د ښځو او مذهبي مشرانو تر منځ د سولې په بهير کې د ښځو د ګډون په تړاو د نظر د شريکولو په موخه دوه ورځنۍ کنفرانس ترسره کړ.

په داسې حال کې چې د پروګرام په لومړۍ ورځ، ګډونوالو خپل منځني بحثونه درلودل او د عمل ګډ پلان يې جوړ کړ، په دويمه ورځ دوی د پاليسي جوړونکو، د ښځينه رهبرانو، ديني علماوو، د ښځو چارو رياست معينی، په پارلمان کی د ښځو چارو کميسيون رئيسې او د مذاکراتي ټيم او د ملي پخلاينې عالي شورا له رئيس سره بحث او خبرې اترې وکړې.

ګډونوالو هغه خنډونه هم رابرسېره کړل چې د سولې په بهير کې يې د ښځو د هدفمند ګډون مخنيوی کاوه او دې ستونزې ته د رسيدنې په پار يې په هراړخيزو ګامونو بحث وکړ چې په لاندې ډول ذکر کيږي:

1. د سولې په بهير کې د ښځو ګډون په ځانګړې توګه په سياسي کچه کمزوری دی او تر ډېره حده سمبوليکه بڼه لري. *لږترلږه د مذاکراتي ټيم او د ملي پخلاينې عالي شورا ٪۳۰ غړي بايد هغه ښځينه وي چې د ښځو د حقونو لپاره د کار کولو مخينه ولري.* ***(ولسمشر او د ملي پخلاينې عالي شورا رئيس)***

2. که څه هم ښځې په دولتي ناستو او غونډو کې ګډون کوي، خو د ټړلو دروازو شاته او د خبرو اترو او منځګړيتوب په اصلي ډپلوماسۍ کې چې په ټولو مهمو موضوعاتو بحث کيږي او پرېکړې نيول کيږي، ښځې نه ښکاريږي. *ښځې هم بايد د خپلو ليډلورو د بيانولو او له وضعيت څخه د خبرېدلو په موخه په دې ناستو کې ګډون وکړي او له دوی څخه دې مشوره واخيستل شي.* ***(ولسمشر او د ملي پخلاينې عالي شورا رئيس او نړيواله ټولنه)***

3. ډېری وخت د پاليسي جوړونکو، سياستوالو او نړيوالې ټولنې لخوا ښځې يواځې د دې لپاره غوښتل کيږي چې د ښځو اړوند موضوعاتو بحث وکړي. *د هېواد د برابرو وګړو په توګه، بايد د افغانستان په ټولو چارو کې د ښځو اندونه واخيستل شي، له اقتصاد او ښې حکومتولۍ رانيولې تر پوځ، امنيت، زده کړو، روغتيا او نورو پورې.* ***(ولسمشر او د ملي پخلاينې عالي شورا رئيس او نړيواله ټولنه)***

4. پداسې حال کې چې طالبان وايي د ښځو په اړه د دوی ليدلوری بدل شوی دی، خو په عمل کې آن يوه ښځه هم د دوی په مذاکراتي ټيم کې شتون نه لري. *د ښځو سره د باور رامنځته کولو لپاره، طالبان بايد د خپلو خبرو رښتينولي په دې ثابته کړي چې پخپل مذاکراتي ټيم کې دې ښځو ته ځای ورکړي.* ***(طالبان، پاکستان او قطر)***

5. خلک معمولاً د سم پوهای نه لرلو له کبله، رواجونه، فرهنګي دودونه او ټولنيز نورمونه له اسلامي ښوونو سره، په ځانګړې توګه د ښځو حقونو په برخه کې سره ګډوي. *موږ بايد په اسلام کې د ښځو او سړيو د حقونو په اړه پوهاوی ډېر کړو.* ***(د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د ښځو چارو وزارت، د پوهنې وزارت، مدني ټولنه او مذهبي مشران)***

6. د ښځو په ګډون د هر څه په اړه د ټولنې د مولويانو د محدودې پوهې سرچينه هغه مدرسې دي چې د اسلام تر ټولو محافظه کار تفسيرونه ورزده کوي. *موږ بايد د خپلې ټولنې مولويانو د مشهورو علماوو د پرمختګ پال اسلام ښوونې ورزده کړو.* ***(د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، مدني ټولنه)***

7. ډېری هغه مذهبي مشران او اسلامي علماء چې په محافظه کاره اسلامي هېوادونو کې يې تحصيل کړی دی، هڅه کوي چې همدغه موډل په افغانستان کې هم وکاروي. *موږ بايد د محافظه کارانه ايډيالوژيو د مخنيوي او خپلو علماوو د روزنې او د افغانستان لپاره د يوه پرانيستي او پرمختګ پال اسلام د ملاتړ په موخه عصري مدرسې او پرمختللي مرکزونه جوړ کړو.* ***(د پوهنې وزارت)***


**EQUALITY for Peace and Democracy**
Email: forozan.rasooli@epd-afg.org
Phone: +93 730 663 574

8. که څه هم افغانستان یو مسلمان هېواد دی، خو بیا هم د اسلام له نظره د ښځو د حقونو په ګډون د بېلابېلو موضوعاتو په اړه بنسټونه او دځېړنې ترسره کولو ظرفیت نه لري. *موږ باید څېړنې وکړو او ټولنې ته د شواهدو پر بنسټ د اسلام له نظره د ښځو د حقونو په اړه معلومات وړاندې کړو.* ***(د لوړو زده کړو وزارت، مدني ټولنه او اسلامي پوهان)***

9. افغانســتان له ۱۲۰،۰۰۰ ډېر جوماتونه لري چې مولیان هره اونۍ د جمعې په ورځ خطبه پکې ورکوي او په منظم ډول د ښــځو د حقونو پر ضـد غږېږي چې دا له ښـځو څخه لرغونې کرکه ښـيي. *د جمعې لمانځه د خطبو لپاره باید یوه کړنلاره جوړه شـي او خطبې دې په منظم ډول کنټرول شي.* ***(د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، مدني ټولنه)***

10. په اسلامي هېوادونو کې دارالافتاء د قرآن او سنتو پر بنسټ په مختلف موضوعاتو د فتوا صادرولو یواځینی باصلاحیته او قانوني مرجع ده. *په افغانســتان کی موږ باید یوه معتبره دارالافتاء جوړه کړو او هلته دې هغه غوره او پوه علماء چې د نورو اســلامي هېوادونو د پرمختګ پال اسلام او دیني پوهې سره بلد وي، د ښځو د منځنینو حقونو متناقض موارد وڅېړي او وروستی احکام دې صـادر کړي.* ***(ستره محکمه او د ارشاد، حج او اوقافو وزارت)***

11. په کابل کې د سولې رامنځته کولو او د بین الافغاني خبرو اترو د پروګرامونو نوښتونه په داسې حال کې صورت نیسي چې په د افغانستان په کلیو او ولایتونو کې جګړه او سخت دریځي ادامه لري. د سولې پروسـه باید په دې سادګۍ سره په ملي کچه پورې محدوده پاتې نشـي، بلکې باید ګنې کچې ولري چې هره یوه یو له بلې څخه حمایه او تغذیه شــي. موږ باید د ښــځو، مذهبي رهبرانو او د ټولنې د مشــرانو تر منځ خبرې اترې پیاوړې کړو تر څو په ټولنو کې دا بحثونه وهڅول شي او د ښځو د حقونو او سولې بهیر په اړه د ټولنې پوهه ډېره شـي. ***(د مدني ټولنې سازمانونه)***

12. د ښځو فعالینو او دیني عالمانو تر منځ راشه درشه او په نورو اسلامي هېوادونو کې د خپلو سیالانو تر منځ د سیمه ایزو اړیکو رامنځته کول چې په ګڼو برخو کې فعال دی. د ښځو د دندې، په سیاست کې د ګډون، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي، کورنۍ، میراث او روغتیا په اړه د هغو هېوادونو قوانین څېړل او لوستل. *د دغو ډلو سـره باید خبرې اترې تنظیم شـي څکه دا چاره د تجربو د شـریکو او یو بل څخه د زده کړو زمینه برابروي.* ***(د مدني ټولنې سازمانونه)***

13. له نورو هېوادونو سره د افغانستان همکاري: *افغانستان کولای چې د اسلام او ډموکراسۍ تر منځ د تعادل د رامنځته کولو د بریا په اړه د نورو مسلمانو هېوادونو څخه ډېر څه زده کړي.* ***(د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د سولې په چارو کې د دولت وزارت او مدني ټولنه)***

14. د ټولنې په کچه سولې ته د لاسرسي او په بریالۍ توګه د خبیثه حلقې د ماتولو په پار، د مکررې شخړې د ټولیزې روغې جوړې مکانیزم باید د ټولنې په کچه رامنځ ته شي – د ښځو د فعالینو، د مذهبي مشرانو، په ولایتي کچه د مدني ټولنې سازمانونو څخه چې د بېلابېلو ډلو تر منځ د ژورې غصې، تعصبونو او سوء تفاهمونو د ټولنیزې روغې جوړې لپاره کار کوي ملاتړ وشي. *د ټولنې روغې جوړې کړنې چې په ځانګړې توګه په ټولنیزه کچه د ډلو تر منځ د درک د پیاوړتیا او د تاوتریخوالی څخه پرته د شـخړو د حل د میکانیزمونو د پیاوړتیا په پار ډیزاین شـوې دي، باید ترسره شي.* ***(د مدني ټولنې سازمانونه)***

15. د پایدارې سولې لپاره د ملي لاښه کېدو بهیر ډېر اړین دی. موږ باید د ټولنې د مسلکي توب هڅې حمایت او تسهیل کړو او د ټولنیز لاښه کولو د لاروچارو، د ښـنې او خســارې جبران د بهیرونو او د ټولنې د وګړو تر منځ د رښــتیا او پخلاینې بهیر په اړه د وګړو پوهه لوړه کړو. ***(د مدني ټولنې سازمانونه)***

16. په داسـې حال کې چې طالبان له یوه اړخه د ښـځو د حقونو په اړه د خپل بشـپړشـوي لیدلوري په اړه غږېږي، د جګړې په میدان کې د دوی جګړه ماران اوس هم ښځې سنګساروي، د ښځو د حقونو فعالین ترور کوي او د نجونو مکتوبونو ته اور وراچوي. *موږ باید د سـولې تړون وروسته د ښځو وضعیت د څارنې په تړاو د ټولنې په کچه د څارنې یو اغېزمن مکانیزم رامنځته کړو او هغه ډلې علني افشا کړو چې د ښځو حقونه تر پښو لاندې کوي او یا ښځې ترور کوي.* ***(د مدني ټولنې سازمانونه او د افغناستان د بشري حقونو کمیسیون)***

د هرې سیاسي معاملې لپاره ټولنیزه سوله ډېره مهمه ده. هغه افغانې ښځې چې د پالیسۍ او ولس د رهبرۍ په کچه کار کوي او مذهبي مشران، د ټولنې د دو هغو مهمو ځواکونو په توګه چې له شخړې، ناامنۍ، بې عدالتۍ او فساد څخه ځوربدلي دي، په ګډه هڅه وکړي او د ټولنیزې سولې د منځته راتګ او د ټولنو تر منځ د همغږۍ د رامنځته کولو په موخه همکاري وکړي.

ښځو او مولویانو ته د سولې او ډموکراسۍ لپاره د برابرۍ مؤسسې لخوا وړاندې شوې روزنه نه یواځې د اسلام مبارک دین په رڼا کې د ښځو حقونو په اړه د پوهاوي لوړېدو په برخه کې اغېزمنه وه بلکې د خبرو اترو، د نظر د تبادلې، د په ځان باور او د ښــځو او دیني مشــرانو تر منځ د اعتماد رامنځته کولو او د ســولې په بهیر کې د ښــځو د ګډون د پیاوړتیا لپاره د عمل ګډ پلان په جوړولو او همدا ډول په افغانســتان کې د ښــځو د حقونو او پایدارې او عادلانه سولې لپاره د ګډ غږ اوچتولو په برخه کې هم کارنده وه.

EQUALITY for Peace and Democracy
Email: forozan.rasooli@epd-afg.org
Phone: +93 730 663 574